PROPERTY OF ACKU

DAILY ارادہ

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۱۱۱

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ش

یوولسم کال – دویمه دوره، ۱۱۱۱ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۸۵ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د زمري ۳۱ مه – د دو شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق رمضان المبارک ۲۲ مه د ۲۰۱۱ د اګست ۲۲ مه

ناکام اعلان شوي وکیلان:

هېڅوک مو له ملي شورا نه شي ایستلای

د ټاکنو خپلواک کمېسیون له لوري ناکام اعلان شوي د ولسي جرګې غړي وایي، هېڅوک نه شي کولای چې دوی له ملي شورا څخه وباسي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون پرون پرېکړه وکړه، چې د ولسي جرګې له معترضو کاندیدانو څخه ۹ تنه بریالي دي او پرځای به یې د ولسي جرګې اوسني ۹ تنه، چې مخکې کمېسیون بریالي اعلان کړي دي، په جرګه ۴مخ

اخـــراج نه نماینـده از پارلمـان افغانستـان؛

پایان جنجال ها یا آغاز بحران سیاسی جدید؟

Sulaiman Ahmadi (RFE/RL)

کمیـسیون انتخابـات سـلب صلاحیت ۹ تن از اعـضای کنـونی ولسی جرگه را به اتهام "تقلب در انتخابات پارلمانی" تایید کرد. این افـراد، نماینـده گـانی از ولایـات پکتیکا، بدخشان، بغـلان، سـمنگان، فاریـاب، هـرات، هلمنـد و زابـل هستند. فضل احمد معنوی رییس کمیسیون مستقل انتخابات دیـروز در سخنانی گفت، ایـن کمیـسیون پس از بررسی شکایات انتخابـاتی و موارد گزارش شـده از تقلـب در انتخابات پارلمانی، تصمیم گرفت، ۹ نماینـده را از هـشت ولایـت در سمت خود ابقا کـرده و ۹ نماینـدۀ دیگر را از ولسی جرگه ص۳

هزینه های نظامی امریکا افزایش یافت

با وجـود وضـعیت حاکمیـت وضـعیت نابـسامان اقتـصادی در امریکـا، بودجـۀ نظـامی امریکا افزایش یافت.

روزنامۀ امریکایی "دیترویت فری پرس" در شمارۀ دیروز خود نوشت: کنگرۀ امریکا ۱,۳ تریلیون دالر را برای هزینه های نظامی سال مالی ۲۰۱۲ اختـصاص داده است، اما پیش بینی می شود که این هزینـه هـا به ۳,۷ تریلیون دالر برسد و هر مالیات دهنـده بایـد ۱۲ هزار دالر را برای جنگ پرداخت کند.

گفته می شود، در ایـن بودجـه، هزینـه هـای جنـگ افغانستان نیز، افزایش قابل توجهی دارد؛ چنانکه به باور این کارشناس امریکایی، با وجود اینکه، امریکـا در تلاش طی سال آینده، شماری از نیروهای خود را از افغانستان خارج سازد، اما بودجۀ جنگ این کشور در افغانـستان، افـزایش ۵ الـی ۱۰ درصـدی را نشان می دهد.

ماه مبارک رمضان مبارکباد

پاداش تشـــکری از شما!

اکنون، با هر بار ازدیاد کریدت ۱۰%
پاداش بدست آورید! و بیشتر صحبت نمائید!

پیام کـــوتاه رمضان!

ON نوشته و به شماره ۲۳۲۳ ارسال نمائید
اکنون از:
- حدیث
- آیه
- فضایل ماه رمضان

و بسیاری موضوعات دیگر بهره مند گردید!

پیام های کوتاه رایگان ماه مبارک رمضان!

پیام های کوتاه نامحدود را در هر روز بطور رایگان بدست آورید!
در بدل ۵ افغانی در روز!
ON نوشته و به شماره ۷۸۶ ارسال نمائید

هـــدایات صوتی مـــاه رمضـــان!

با شماره ۷۸۶ تماس بگیرید
و در هر زمانی به:
- قرآن شریف
- تاریخ اسلام
- احکام نماز

و بسیاری موضوعات دیگر گوش دهید!

افغان بیسیم
ارتباط دهندۀ افغانستان
Afghan Wireless
Connecting Afghanistan

* الی ۵۰۰ پیام کوتا در روز
** هزینه یکباره اشتراک ۱۵ افغانی و هزینه روزانه ۱ افغانی اخذ می گردد.
*** هزینه تماس ۶ افغانی فی دقیقه می باشد.

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

فساد د افغانانو اساسي ستونزه، اساسي معضله

په هېواد کې د فساد بې کچې شتون یو له هغو معضلو څخه دی، چې د دولت او چارواکو یې پر وړاندې د یوې سترې ننګونې په توګه جال غوړولی. فساد او درغلی د تېرو نهو کلونو په بهیر کې د افغانستان په دولتي او نادولتي ادارو کې ښې په پراخه توګه خپرې شوې، اټکل کېږي که په راتلونکي کې د دې شومې پدیدې د راقابو کولو په موخه کاري اوغېزمن ګامونه و نه اخیستل شي، کېدای شي، اوسنی نظام او په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې ستر ماموریت او بې سارې پانګونې له ماتې سره مخ شي، د دې ریو په باور، په هېواد کې اوسنی روان خوړین حالت، ناامني، د نشه یي توکو قاچاق او په سلګونو نورې بلاوې تر ډېره بریده، په دولتي ادارو کې له بې کچې فساد او اختلاس سره تړاو لري، نو که د فساد او اختلاس مخه و نه نیول شي، ګومان کېږي، دغه پدیده په دولتي او نادولتي ادارو کې نورې هم ریښې وغځوي او د یوه بحران په توګه سر راجګ کړي، چې بیا به یې کنټرول او مخنیوی د هېڅا په وس پوره نه وي.

دا په داسې حال کې ده، چې په تېرو کلونو کې په افغانستان کې د فساد د مخنیوی په موخه، ډېر کمېسیونونه او اداري جوړې شوې، خو دغو ادارو او کمېسیونو نو د دې پر ځای چې له فساد او اختلاس سره لکه څرنګه چې تمه یې کېدله، ټینګه مبارزه وکړي، دوی په خپله په کې ښکېل شول. پخواني لوی ځار نوال جبار ثابت هم په دې برخه کې ډېر اخلاص وښود او ان د فساد پر ضد یې د جهاد اعلان وکړ، خو دا چې په افغانستان کې فساد تر ټولو دمخه په لوړو سټو کې ښه ځلېږي، نو نوموړی نه یوازې په خپلو کړیو ژمنو کې پاتې راغی، بلکې په وروستیو کې په خپله هم پر همدې بدیې تورن شو، چې په فساد او اختلاس کې لاس لري.

په هر صورت، مورد دې وړاندوینه نه کوو، چې خدای مه کړه دغه اداري به هم په دې کرښه کې له ماتې سره مخ وي، بلکې د دې یادونه ضرور بولو، چې فساد او اختلاس د افغانستان اساسي ستونزه ده، چې اساسي حل غواړي. دا خبره اوس ټولو ته روښانه شوې، چې دمګړی په افغانستان کې فساد یوه ساده مسئله نه ده، چې د دولت تر یو عادي مامور او یا کارمند پورې خلاصه شي، بلکې دلته فساد او اختلاس د دولت په لوړو مقامونو او ان د ولسمشر په چارچاپېر کسانو کې خپلې ریښې ټینګې کړي، د نړیوالو سازمانونو د وروستیو شمېرو له مخې، فساد همدا اوس په افغانستان کې د تېرو کلونو په پرتله دوه چنده شوی او دغه لړۍ ښه په زور او کش سره د عروج ګامونه اخلي. ویل کېږي، چې د افغانستان په کابینه او والیانو کې یو شمېر داسې کسان شته، چې د فساد او اختلاس له برکته ښه ماړه شوي او دغه چارې پرته له دې چې څوک ورسره حساب کتاب یا تړې پوښتنه وکړي، ترسره کوي. له دې نه اخوا، د نړیوالو دوستانو په لیکه کې چې د افغان دولت د هېڅ ارګان زور پرې بر نه دی، هم دغه پدیده ښه په کش سره روان ده. یو شمېر کسان خو ان په هېواد کې د فساد د بې کچې خپرېدا اصلي لامل، همدغه دوستان بولي، چې په بشپړه بې مسوولیتي سره زمور په هېواد کې ګرځي، چارې ترسره کوي او پیسې مصرفوي، نه خپل وجدان او نه هم بل څوک پېژني چې د خپلو کړنو په اړه، ورته حساب ورکړي.

په افغانستان کې د اداري فساد ستونزې اوسمهال، ستراتیژیکه بڼه غوره کړې، ځکه په اصطلاح خارجي دوستانو هم خپلې راتلونکې مرستې پر همدې مسئلې پورې تړلې بولي، نو ویلای شو، چې پر وړاندې یې مبارزه، ستراتیژیکو برنامو او سیاستونو ته اړتیا لري. باید ووایو، هغه اداري، چې په دې برخه کې کار کوي، د خپلو مسوولیتونو د ترسره کولو په بهیر کې له وزیره تر فقیره پر ټولو ځار نه ولري او پوښتنه وکړي، نه دا چې د یو بام او دوه هوا سیاست پلي او یوازې پر تېټ پوړو او بهوزلو مامورینو باندې د قانون تطبیق ته د قانون د حاکمیت رنګ ورکړي او په ړانا ورځ د خلکو په ستر ګو کې خاورې وشیندي.

اعلامیه یا پیمان استراتیژیک افغانستان و ایالات متحدهٔ امریکا؟

نگارنده: دکتراندس م. نبی هیکل

بحث همکاری های استراتیژیک افغانستان و امریکا در حالی در رسانه ها گرم است که در مورد توافقات دست یافته معلومات موثق در دست نیست. نیاز به امضای یک سند رسمی یی که ساحات، خطوط اساسی (حدود و ثغور) همکاری ها میان افغانستان و ایالات متحدهٔ امریکا را مشخص سازد، ناشی از واقعیت ها و ضرورت های موجود است. این سند هر چه نام داشته باشد، دارای یک هویت حقوق می باشد که میان حکومت های افغانستان و امریکا به نماینده گی از دولت های متحابه امضا می گردد. با اکمال خروج تدریجی نیروهای جامعهٔ بین المللی نیاز امضای چنین اسناد میان افغانستان و آن کشورهایی متبارز می گردد که خواهان ادامهٔ همکاری با افغانستان می باشند. روابطی که در نتیجه، امضای چنین اسناد میان افغانستان و دیگر کشورها از زمرهٔ اتحادیهٔ اروپا به وجود می آید، برای آیندهٔ افغانستان حیاتی می باشد. بر اساس گزارش های نشر شده سند همکاری های استراتیژیک ساحات متعدد دارای اهمیت را احتوا می نماید و به هدف یا اهداف معین استراتیژی امضا می شود. هدف استراتیژیک ایالات متحدهٔ امریکا را به آسانی می توان پیشبینی نمود، در حالی که حکومت افغانستان نیز، به حیث جانب دیگر امضا کنندهٔ این سند، دارای هدف استراتیژیک فورمولبندی شده باشد. این هدف، باید با درنظرداشت چهارچوبی فورمولبندی گردد که توسط قانون اساسیٔ تعیین گردیده است.

تا چندی پیش ایالات متحدهٔ امریکا از پیمان همکاری های استراتیژیک سخن می گفت و سپس آنرا به اعلامیهٔ همکاری های استراتیژیک تغییر نام داد، تا از دردسرهای قانونی موجود بر سر راه آن در آن کشور کاسته شود.

تصویب چنین اسناد از سوی پارلمان های کشورهای مربوط نه تنها درجهٔ دموکراتیک بودن تصمیمگیری را نشان می دهد، بلکه باور و اعتماد ملی را نیز، بازتاب می دهد. برای افغانستان آنچه را ایالات متحدهٔ اعلامیه می پندارد ممکن است، به حیث یک پیمان تلقی گردد. چه تفاوتی میان اعلامیه و پیمان وجود دارد و جایگاه این دو در حقوق بین المللی در کجا قرار دارد؟

مسودهٔ کمیسیون حقوق بین الملل "پیمان" را چنان تعریف نموده که پیمان، کنوانسیون، پروتوکول، توافق، منشور، اساسنامه، اکت، اعلامیه، موافقتنامه، تبادل یادداشت ها، یادداشت های توافق شده، میموراندم، مودوس فیفیندی و زیر هر نام دیگر را شامل می گردد که میان دو یا بیشتر دولت ها و یا دیگر بازیگران حقوق بین الملل به امضاء می رسد (Ian Brownlie, (۱۹۹۸).*Principles of public International Law.6th edition Clarendon Press: Oxford.Pp.۶۰۸-۶۰۹*

مواد کنوانسیون ویانا، همانند مسودهٔ نهایی کمیسیون منحصر به معاهدات میان دولت ها می باشد. مادهٔ (۲) (I) (a) پیمان (Treaty) را به حیث موافقتنامهٔ کتبی بین المللی میان دولت ها می داند که تابع حقوق بین الدول باشد....)، صرف نظر از نام داده شده به آنها این دو شرط برای آن درنظر گرفته شده است. کنوانسیون به این باور است که تمایز میان آنچه به حیث یک تعهد حقوقی میان دو دولت و آنچه کمتر از آنرا شامل می گردد، دشوار است؛ مگر شکل ابزار مانند اعلامیهٔ مشترک قاطعیت ندارد (همانجا. ص. ۶۰۹).

مسودهٔ یادشده، اساس کنفرانس ویانا را ساخت که در در دو جلسه، ۱۹۶۸ و ۱۹۶۹ کار کنوانسیون ویانا را تکمیل نمود. کنوانسیون به تاریخ ۲۷ جنوری ۱۹۸۰ نافذ و حداقل تا (ارقام ۱۹۹۸) ۸۱ کشور به آن ملحق گردیدند. از آنجایی که قوانین اساسی کشورهای امضاء کننده می تواند، محدودیت هایی را در زمینه به وجود آورد، جانب افغانستان نیز، باید به این محدودیت ها توجه نماید.

قانونی اساسات:

مادهٔ ۶۴، بند ۱۷قانون اساسی افغانستان، اعطای اعتبارنامه به غرض عقد معاهدات بین الدول مطابق به احکام قانون را از صلاحیت های رییس جمهور می داند و بر اساس بند ۵ مادهٔ ۹۰"تصدیق معاهدات و میثاق های بین المللی یا فسخ الحاق افغانستان به آن "از زمرهٔ صلاحیت های شورای ملی می باشد. لازم است، مادهٔ پنجم، هشتم، بند اول مادهٔ هفتاد و پنجم، و ماده هفتاد و ششم نیز، به حیث اساس کار در نظر گرفته شود.

برای افغانستان امضای سند همکاری های استراتیژیک با ایالات متحدهٔ امریکا فارغ از دشواری ها نخواهد بود.

دشواری نخست ناشی از اصطکاکی خواهد بود که میان موضعگیری حکومت افغانستان و نظر عام مردم در این رابطه به وجود خواهد آمد. مردم نه تنها از حکومت فاصله دارند، بلکه حکومت را بیشتر به حیث ابزار سیاسی بیگانگان می شناسند. در صورتی که موجودیت نظامی ایالات متحده در این سند به گونه یی تمدید گردد، مخالفان مسلح افغانستان منبع دیگر اختلاف و تشنج را خواهند ساخت. سومین منبع به تعریف مصالح علیا/ منافع ملی کشور مرتبط خواهد بود. در حالی که وجود محسوس و ملموس ایالات متحدهٔ امریکا (سی تیریس پاریبوس) تا دو دههٔ دیگر برای تحکیم حاکمیت ملی و دموکراسی در افغانستان ضروری پنداشته می شود، افغانستان به سوی مرحلهٔ رهبری می شود که در آن حاکمیت سیاسی افراطیت و افراطگرایی از لحاظ سیاسی و اجتماعی، تامین می گردد. زیرا سرنوشت دموکراسی در افغانستان، به ایلیت های حاکمی سپرده شده که با دموکراسی خصومت می ورزد، در حالی که نیروهای جانبدار دموکراسی به حاشیه رانده شده است. حقیقت این است که جسد خونین دموکراسی در افغانستان هم اکنون بر شانه های جامعهٔ بین المللی حمل می شود.

نه تنها فورمولبندی هدف استراتیژیک افغانستان از عقد سند همکاری های استراتیژیک با ایالات متحدهٔ امریکا بر اساس چهارچوب تعیین شده توسط قانون اساسی افغانستان، دارای اهمیت می باشد، بلکه موضعگیری افغانستان در جنگ علیه تروریزم از یکسو و کار برای تحقق صادقانهٔ مواد سند همکاری های استراتیژیک نیز، دارای

اهمیت می باشد ص۳

اعلامیه یا پیمان استراتیژیک ...

حکومت افغانستان تاکنون نتوانسته و یا هم نخواسته، سیاست های خود را بر اساسات تعیین شده در قانون اساسی کشور فورمولبندی و تطبیق نماید. تنها حکومت مسوولیت پذیر و پاسخگو می تواند، منافع و مصالح علیای کشور را در مذاکرات و عقد سند همکاری های استراتیژیک در نظر گیرد و در عمل تحقق بخشد. تجارب ده سال گذشته نشان داد که حکومت فاسد و غیر ملی از بهترین فرصت ها نتوانست، به سود مصالح علیای کشور استفاده نماید. گفته اند، دموکراسی (G. Majoni.۱۹۸۹:۱) سیستم حکومتداری از راه مباحثه است. افغانستان در شرایط کنونی نیازمند آن است، تا بحث پالیسی سازی را از عقب درهای بسته به عرصه های عام و جمعی بکشاند و این کاراز راه های ارتقای قابلیت نفوذ پذیری سیستم و تامین مشارکت سیاسی- اجتماعی ممکن به نظر می رسد. حلقات سیاسی و اجتماعی نیز، نباید از قدرت این انتظار را داشته باشند، تا به آنان فرصت مشارکت در قدرت را فراهم نماید.

حقایق تلخ:

در این حقیقت، کمترین شک وجود دارد که شرایط کنونی محصول عملکرد اتحاد ایلیت حاکم بر سرنوشت افغانستان و ایلیت های جامعهٔ جهانی می باشد. سال هایی که گذشت نشان دادند که هم ایلیت سیاسی و هم ایلیت های جامعهٔ جهانی نه تنها عامل، بلکه بخش عمده از دشواری های کنونی را می سازند. بار اساسی تقصیر و ملامتی بر شانه های ایلیت حاکم بر افغانستان قرار دارد؛ در حالی که جامعهٔ جهانی به حیث حامی و تمویل کنندهٔ ایلیت حاکم عمل می نماید.

درحالی که از این حقایق نمی شود انکار نمود، آرامش و ترقی در افغانستان با حضور و حمایت جامعهٔ جهانی بستگی دارد؛ زیرا با خروج آنها نه تنها خطر سقوط حکومت متصور است، بلکه درگیری جنگ های داخلی حتمی به نظر می رسد. دشواری دیگر از مداخلهٔ بیگانگان بخصوص همسایه گان به همت حلقه های اجیر در افغانستان ناشی می گردد که در حال حاضر نیز، به جای دفاع از منافع ملی کشور خود، در خدمت دفاع از منافع بیگانگان قرار دارند. با خروج کامل نیروهای جامعهٔ بین المللی، افغانستان به حیث طعمه یی زخمی و ناتوان در میدان رقابت گرگان قرار خواهد گرفت.

افغانستان نه تنها برای تقویت کمی و کیفی نیروهای نظامی خود به زمان نیاز دارد، بلکه برای احیا و تقویت روحیهٔ وطنپرستی، ایجاد و تقویت ساختارهای ملی- دولتی حامی استقلال و تمامیت ارضی و ارزش های دموکراتیک نیز، به زمان و حمایت مستقیم جامعهٔ جهانی نیاز دارد. بدین ترتیب، حضور نظامی ایالات متحده به صورت قانونمند و مطابق به اصول حقوق بین الملل به نفع افغانستان می باشد.

اخراج نه نماینده از پارلمان...

اخراج کند. فضل احمد معنوی، رییس کمیسیون انتخابات، در یک کنفرانس خبری در کابل گفت که این تصمیم نهایی است و هیچ بازنگریی در آن صورت نخواهد گرفت. پیشتر، محکمهٔ ویژهٔ رسیده گی به شکایات انتخاباتی که از سوی رییس جمهور کرزی، برای بررسی تقلب‌های انتخاباتی تشکیل شده بود، ۶۲ از اعضای ولسی جرگه را به تقلب متهم کرده و خواستار سلب صلاحیت آنها از عضویت در ولسی جرگه شده بود. این تصمیم اگر چه با استقبال نامزدان معترض انتخابات رو به رو شد، اما اعتراض‌های گسترده‌یی را در ولسی جرگه برانگیخت. ولسی جرگه، تشکیل محکمهٔ خاص و تصمیم‌گیری آن در مورد تقلب در انتخابات پارلمانی را در تضاد با قانون دانسته و تصمیم‌های آن را فاقد اعتبار خوانده است.

پایان جنجال‌ها یا آغاز بحران سیاسی جدید؟

رییس جمهور کرزی اما اخیرا به کمیسیون انتخابات افغانستان وظیفه داد، تا در مورد جنجال‌های انتخابات پارلمانی تصمیم نهایی بگیرد. فضل احمد معنوی، رییس کمیسیون انتخابات که تصمیم نهایی این کمیسیون را اعلام می کرد، به خبرنگاران گفت که آنها نمی خواستند، وارد ماجرای انتخابات شوند، اما فرمان رییس جمهور کرزی آنها را مجبور کرد، در این رابطه کار کنند. او گفت که کمیسیون انتخابات تشکیل محکمهٔ خاص انتخاباتی را غیرقانونی می‌داند و تصمیم‌گیری براساس نتایج کار این محکمه، کاری خلاف میل آنها بوده است. رییس جمهور کرزی با واگذاری مسوولیت تصمیم‌گیری به کمیسیون انتخابات، امیدوار است، تا به جنجال‌های موجود در مورد نتایج انتخابات پارلمانی و ادعاهای تقلب در آن پایان داده شود. اما ناظران باور دارند که تصمیم کمیسیون انتخابات به سلب صلاحیت عده‌یی از نماینده گان ولسی جرگه، می‌تواند زمینه را برای ادامهٔ جنجال‌ها فراهم کند. ولسی جرگه تاکید کرده است که هیچ تغییری در نتیجهٔ انتخابات برای آنها قابل قبول نیست و از سوی دیگر، ده‌ها تن از نامزدان معترض به نتیجهٔ انتخابات، خواستار سلب صلاحیت ۶۲ تن از اعضای ولسی جرگه هستند. این مسأله، راه را برای ۶۲ تن از نامزدان معترض برای ورود به مجلس نماینده گان هموار خواهد کرد. این نامزدان تاکید دارند که آرای آنها بیشتر بوده و تنها در نتیجهٔ تقلب در انتخابات، از ورود آنها به مجلس نماینده گان جلوگیری شده است. فهرستی که کمیسیون انتخابات افغانستان در مورد تغییرات جدید در ترکیب اعضای ولسی جرگه منتشر کرده است، شامل اعضای پرنفوذ ولسی جرگه نمی‌شود.

تغییرات:

نام‌های نماینده گانی که بر اساس تصمیم کمیسیون انتخابات سلب صلاحیت شده‌اند و نیز، کسانی که به جای آنها وارد پارلمان خواهند شد، به این قرار است: حاجی عبدالقدیر از ولایت پکتیکا سلب صلاحیت شده و به جای او محمود خان سلیمان خیل وارد شورا می‌شود. از ولایت بدخشان، عبدالولی نیازی سلب صلاحیت شده و به جایش عبدالرووف وارد مجلس می‌شود. از ولایت بغلان، محمد ظاهر غنی‌زاده سلب صلاحیت شده و به جایش حاجی عاشق الله وارد مجلس می‌شود. از ولایت سمنگان، محمد طاهر ظهیر سلب صلاحیت شده و احمد خان سمنگانی به جای او وارد مجلس می‌شود. از ولایت فاریاب، محمد شاکر کارگر سلب صلاحیت شده و به جای او، گل محمد پهلوان وارد مجلس می‌شود. از ولایت هرات، محمد رفیق شهیر و سیمین بارکزی سلب صلاحیت شده و به جای آنها نثار احمد غوریانی و رحیمه جامی وارد مجلس می‌شوند. از ولایت هلمند، مسعود خان نورزیی سلب صلاحیت شده و به جای او معلم میر ولی وارد مجلس می‌شود. از ولایت زابل، عبدالحبیب اندیوال سلب صلاحیت شده و به جای او، حمیدالله توخی وارد مجلس می‌شود. لازم به ذکر است، بر اساس فرمان هفتهٔ گذشتهٔ رییس جمهور کرزی تصمیم گیری نهایی دربارهٔ جنجال های انتخابات ولسی جرگه، به کمیسیون مستقل انتخابات سپرده شد. کرزی در این فرمان تاکید کرد، تصمیم گیری کمیسیون مستقل انتخابات، باید با توجه به حکم محکمهٔ استیناف انجام شود. در حکم این محکمه، ۶۲ تن از اعضای کنونی ولسی جرگه به تقلب در انتخابات متهم شده و صلاحیت عضویت در نهاد قانونگذاری ازآنان، سلب شده است. تصمیم کرزی مبنی بر سپردن مسوولیت تصمیم گیری نهایی دربارهٔ اختلاف های انتخاباتی به کمیسیون مستقل انتخابات این کشور، واکنش های گسترده یی به دنبال داشته است. دیگر، تحصن چند روزهٔ شماری از نماینده گان ولسی جرگه در اعتراض به تصمیم کرزی که از هفتهٔ گذشته شروع شد، با حضور هواداران آنان به تظاهراتی اعتراض آمیز، منجر شد. در این تظاهرات، شماری از نماینده گان مجلس، فرمان اخیر رییس جمهور افغانستان را غیرقانونی خواندند. پیش بینی می شد، چنانکه تصمیم نهایی کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان به تغییر در ترکیب مجلس نماینده گان این کشور منجرشود، بحران سیاسی- اجتماعی در افغانستان، اجتناب ناپذیر خواهد بود. نماینده گان مجلس هشدار داده بودند که هیچ تغییری را نخواهند پذیرفت و هنوز معلوم نیست، سرانجام ترکیب ولسی جرگهٔ افغانستان به کجا می انجامد. این حکم جدید کمیسیون مستقل انتخابات از سوی نماینده گان کنونی و نیز، نامزدان شکست خورده و معترض مورد اعتراض است و از سوی رییس جمهور نیز، آنرا حکم نهایی برای پایان بخشیدن به کشمکش ها اعلام کرده است.

روسیه له دې وروسته د افغانستان د نفتي توکو اړتیاوې پوره کوي

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارت وایي، له روسیې سره د نوې ترونونو له مخې به هر کال شاوخوا پنځه لکه ټنه نفتي مواد هېواد ته وارد شي.

د سوداګرۍ او صنایعو وزیر انوارالحق احدي چې تېره اوونۍ د تیلو د اخیستلو په نیت روسیې ته تللی و، د یکشنبې پر ورځ یې خبریالانو ته وویل چې په روسیه کې یې د هغه هېواد له دري کمپنیو سره ترونونه لاسلیک کړي او له مخې یې د افغانستان د نفتي موادو دولتي او خصوصي شرکتونه کولای شي چې له هېواده نفتي مواد واخلي. «په پرنسیب کې موافقې ته ورسېدو، چې په کال کې شاوخوا پنځه لکه ټنه نفتي مواد له روسیې څخه وارد کړو، د موادو بیې د نړیوالو بیو په نظر کې نیولو سره ټاکل کېږي، روسیې له موږ سره په هر لیتر کې له پنځه څخه تر اوو ډالرو پورې مراعات ومنلو.»

احدي زیاته کړه، اوس مهال یې له هغه هېواد څخه لس زره ټنه ډیزل اخیستي او په نړۍ راتلونکي کې به یې لیږدیدل پیل شي.

له روسیې سره د نفتي موادو ترونونه په داسې حال کې لاسلیک کیږي، چې په هېواد کې د دې موادو د کمښت له امله، خلک او په تېره د نقلیه وسایطو لرونکي شکایت کوي. د سوداګرۍ او صنایعو وزیر وویل، د دې ترون له مخې به د افغانستان دولتي او خصوصي شرکتونه هغه هېواد ته معرفي او د یوې شفافې معاملې له مخې به نفتي مواد ورکول کېږي.

احدی دا هم وویل، څرنګه چې د یاد موادو بیې ور معلومې شوې، کولې شي چې وروسته له دې یې په هېواد کې دننه په اسانۍ سره کنترول کړي: «د دې ترون له مخې مونږ پوهیږو، چې له روسیې څخه څومره تیل راځي، د ترانسپورت لګښت یې څومره دی او د رسېدو موده یې څومره ده. د دې له مخې کولای شو، په هېواد کې دننه د تیلو ضرورت، د تیلو کیفیت او بیې له خصوصي سکتور سره په هماهنګۍ کې کنترول کړو.»

د دې وزارت د معلوماتو له مخې افغانستان په ملکي او نظامي چارو کې په کال شاوخوا درې میلیونو ټنو نفتي موادو ته ضرورت لري، چې زیاته اندازه یې له ترکمنستان، ایران، روسیې او د خلیج له هېوادونه څخه را نیول کېږي.

په افغانستان کې د نړۍ د نورو هېوادونو په څیر د زیاترو موادو او اجناسو بیو د تیلو له بیو سره ټرلې دي، خو څرنګه چې د دې هېواد د خلکو اقتصادي توان لږ دی، د بیو له لږو پورته کېدو سره هم له ستونزو مخ کېږي.

کارپوهان وایي، دولت او خصوصي سکتور باید د نفتي موادو ذخیرو ته تدابیر ونیسي، ترڅو د ستونزو په وخت کې وکارېږي.



د ولسي جرګې لانجه نوی رنګ اخلي!

میوند

د افغانستان د ولسي جرګې ټاکنې او په دې اړه راپورته شوې لانجه هره ورځ نوی رنګ اخلي او د هرې ورځې په تېرېدو نوی شکل ځانته غوره کوي. د دغو ټاکنو په هکله د انتخاباتي شکایتونو د څېړلو په منظور رامنځ ته شوې اختصاصي محکمه چې څو میاشتې مخکې د ستر محکمې په وړاندیز او د جمهور رییس په منظوري جوړه شوې وه، څو اونۍ مخکې یې خپله پربکړه صادره کړه، چې پر مبنی یې د اوسنۍ ولسي جرګې دوه شپېته تنه غړي د غلګر وپېژندل شول او پر ځای د دوه شپېته تنه نور غړي ولسي جرګې ته کامیاب وبلل، چې په مقابل کې د ولسي جرګې او انتخاباتو د کمېسیون له سخت مخالف غبرګون سره مخ شول. کله چې څو اونۍ مخکې اختصاصي محکمې خپله نهایي پربکړه صادره کړه او بیا همدا پربکړه استیناف محکمې ته وړاندې شوې او بلاخره دې محکمې هم د اختصاصي محکمې پربکړه پر ځای او اصولي وبلله، او په همدې حال کې جمهور رییس هم د انتخاباتو له کمېسیون نه وغوښتل، چې د ډېرژر د استیناف د محکمې پربکړه طی مراحل او عملي کړي او بلاخره کمېسیون تر یو لړ فشارونو وروسته د ولسي جرګې د تېر کال ټاکنو ۹ تنه معترض کاندیدان، چې مخکې یې ناکام اعلان کړي وو؛ بریالي وبلل. د یاد کمېسیون مشر فضل احمد معنوي پرون په کابل کې خبریالانو ته وویل، چې یاد شوي نهه کسان هغه کاندیدان دي، چې د ټاکنو په لومړنیو پایلو کې بریالي وو، خو په وروستیو پایلو کې د کامیابانو له لېست څخه ایستل شوي وو. دغه راز ده وویل، چې دغه نهه تنه د ځانګړې محکمې له خوا په بریالیو پېژندل شویو ۶۲ تنو کې شامل دي. هغه وویل چې د دې کمېسیون د وروستي تصمیم له مخې، په پکتیا کې د ولسي جرګې د اوسنې وکیل عبدالقدیر پر ځای محمود خان سلیمان خېل، په بدخشان کې د عبدالولي نیازي پر ځای ځار نوال عبدالروف، په بغلان کې محمد ظاهر غني زاده پر ځای حاجي عاشق الله وفا، په سمنګانو کې محمد طاهر زهیر پر ځای احمد خان سمنګاني، په فاریاب کې د شاکر ګارګر پر ځای محمد پهلوان، په هرات کې د محمد رفیق شهیر پر ځای نثار احمد غوریاني او په همدې ولایت کې د سمین بارکزی پر ځای رحیمه جامي، په هلمند کې د مسعود خان نورزي پر ځای معلم میرولي او په زابل کې د عبدالحبیب اندیوال پر ځای حمیدالله توخی ولسي جرګې ته معرفي کېږي.

د ټاکنو کمېسیون په داسې حال کې دغه پربکړه کوي، چې مشر یې مخکې ویلي وو، چې د کمېسیون له خوا د ټاکنو په اعلان شویو پایلو کې بدلون نه دی شوني او هېڅ ارګان، په دې صورت کې ویلای شو، چې جنجال لا پسې جنجال شو او لانجه نوره هم اوږدو نکې ده، ځکه له یوې خوا په افغانستان کې د محکمو ارزښت راټیټ شو او پربکړه مصلحتي ترسره شوه، چې په دې کار سره ولسي جرګه چې انتخابي بڼه لري پر مصلحتي بدلېدو نکې ده او له بلې خوا اعتراضونو ته لا بڼه لار هواره شوه او په دې توګه د یوه نوي کړکېچ ور پرانېستل شو. دا چې دا کړکېچ به په کومه خوا ځي او انجام به یې څه وي؟ دا به وروسته روښانېږي.

هېڅوک مو له ملي شورا نه ...

کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي. د سرچیني د معلوماتو له مخې، د دې کمېسیون د وروستي تصمیم له مخې، په پکتیکا کې د ولسي جرګې د اوسني وکیل عبدالقدیر پر ځای محمود خان سلیمان خېل، په بدخشان کې د عبدالولي نیازي پر ځای ځار نوال عبدالرووف، په بغلان کې د محمد ظاهر غني زاده پر ځای حاجي عاشق الله وفا، په سمنګانو کې د محمد طاهر زهیر پر ځای احمد خان سمنګاني، په فاریاب کې د شاکر کارګر پر ځای ګل محمد پهلوان، په هرات کې د محمد رفیق شهیر پر ځای نثار احمد غوریاني او په همدې ولایت کې د سمین بارکزی پر ځای رحیمه جامي، په هلمند کې د مسعود خان نورزي پر ځای معلم میرولي او په زابل کې د عبدالحبیب اندیوال پر ځای حمیدالله توخی ولسي جرګې ته ور پېژندل کېږي.

د یاد شوي کمېسیون د چارواکو په وینا، یاد شوي نهه کسان هغه کاندیدان دي، چې د ټاکنو په لومړنیو پایلو کې بریالي وو؛ خو په وروستیو پایلو کې د کامیابانو له لېست څخه ایستل شوي وو. په ولسي جرګه کې د زابل استازي عبدالحبیب اندیوال، چې د کمېسیون د پربکړې له مخې باید له جرګې وایستل شي، وویل، قانون هېڅ چا ته اجازه نه ورکوي، چې دوی له ولسي جرګې څخه بهر کړي.

هغه وایي چې د ستر محکمې، لوی څارنوالۍ او د ټاکنو خپلواک کمېسیون له تېروا تو میاشتو راهیسې په دې وتوانېدل، چې هغه نهه تنه د ولسي جرګې غړي پیدا کړي، چې نه پیسې لري، نه توپک او نه هم په کوم جهادي رهبر پورې تړلي دي. اندیوال زیاتوي: ((زه ۱۶ مه دوره مکمله دلته تېروم او هېڅوک ما نه شي ایستلای.)) د سمنګانو د خلکو استازي محمد طاهر زهیر، چې په یادو نهو کسانو کې شامل دی، بیا په دې پربکړه کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون رییس فضل احمد معنوي د پردې تر شا په معاملو تورنوي. هغه زیاتوي: ((معنوي دغه کار د ستر محکمې د ریاست د لاسته راوړلو لپاره کړی دی.)) د دې په وینا، د ټاکنو خپلواک کمېسیون وښوده، چې په بنکاره ډول د ټولو پر وړاندې کولای شي، قانون مات کړي. په ولسي جرګه کې د بغلان استازي او له یادو نهو کسانو څخه یو بل تن حاجي ظاهر غني زاده هم په دې ټینګار کوي، چې هېڅ مرجع قانوني حق نه لري، چې له جرګې څخه د خلکو د استازو د ایستو پربکړه وکړي.

هغه زیاته کړه، چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون تر پرونه له قانون څخه د ملاتړ خبرې کولې؛ خو پرون یې په خپله قانون مات کړ. غني زاده زیاتوي: ((هغه چا د ولسي جرګې په پایلو کې د تغییر پربکړه وکړه، چې تر پرونه یې ویل، چې په پایلو کې تغییر راوستل خوب دی، خیال دی، لېونتوب دی او محال دی.)) د ټاکنو خپلواک کمېسیون مشر مخکې ویلي وو، چې د کمېسیون له خوا د ټاکنو په اعلان شویو پایلو کې بدلون نه دی شونی او هېڅ ارګان، ان په خپله کمېسیون هم په کې بدلون نه شي راوستلای.

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز

ماده سی ام:۲– هر دولتی میتواند در زمان امضاء این کنوانسیون و یا الحاق آن اعلام دارد که خود را موظف به اجرای بند ۱ این ماده نمی داند. دولتهای عضو دیگر بـااحترام به هر کشوری که این حق وشرط را برای خود محفوظ داشته اند، خود را موظف به اجرای بند ۱ این ماده، درمورد آن کشور نمی دانند.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل:– ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل:– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل:– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجنیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com